ADMINISTRATION FOR
CHILDREN & FAMILIES
Office of Refugee Resettlement

# د کډوالۍ ځآنګړې ویزې درلودونکیو افغان او عراقي وګړو لپاره مرستې

**آیا تاسې یو افغان یا عراقي شخص  یاست چې د کډوالۍ ځانګړې ویزې درلودونکي (SIV) موقف درکړل شوی دی؟**

تاسې ښایي د نغدي مرستې، د طبي مرستې، د دندې چمتووالي خدمتونو، د دندې موندنې د مرستې، انګریزي ژبې د زده کړه خدمتونو، او نورو خدمتونو چې د کډوالوچه *د بیا میشتید نې* دفتر (ORR) له لیارې وړاندې کیږي، مستحق واوسئ. تاسې ښایي د فیډرالي "عادي بهیر/"Mainstream" هغو مرستو  چه (د کډوالو *د بیا میشتید نې* دفتر له خوا تمویل شوي نه وي) ، لکه د هوسایني اضافه عاید [Supplemental Security Income (SSI)] یا د اړمنو کورنیو لپاره لنډمهاله مرستې [ Temporary Assistance for Needy Families (TANF)] له لیارې نغدي مرستې، د میډیکیډ (Medicaid) له لارې صحي بیمې، او د خوراکي توکو اضافه مرستې پروګرام [Supplemental Nutrition Assistance Program (SNAP)] له لیارې د خوراکي توکو مرستې هم مستحق واوسئ. دا سند پر هغو مرستو او خدمتونو څرخي چې د کډوالو *د بیا میشتیدنې* دفتر (ORR) یې تمویلوي. دا معلومولو لپاره چې *د بیا میشتیدنې* څه ډول خدمتونو شتون لري، د خپل ایالت د کډوالو د همغږۍ مسئول سره اړیکه ونیسئ:
https://www.acf.hhs.gov/orr/grant-funding/key-state-contacts

ځینې د کډوالۍ ځآنګړې ویزې درلودونکي امکان لري د کډوالو *د بیا میشتید نې* ځایي ادارو څخه هم د ښه راغلاست او میشتید نې (R&P) خدمتونه ترلاسه کړي. د بیا میشتید نې ځایي ادارې د موندلو لپاره، لاندینی لنک کیکاږئ:
https://www.wrapsnet.org/documents/R&P%20Affiliate%20Directory%20(Updated%20May%202021).pdf

**په واقعیتونو لنډه کتنه څوک د مهاجرت د ځانګړې ویزې درلودنکي (SIV) موقف لرې؟**
ځینو وګړو ته د متحده ایالتونو د کورني امنیت وزارت له خوا د کډوالۍ یا دمهاجرت ځانګړې ویزه ورکړل شوی. هغه افغان یا عراقي وګړي چې د متحده ایالتونو حکومت ته د خدمت لپاره د کډوالۍ د ځانګړې ویزې درلودنکي (SIV) موقف ورکړل شوی، د کډوالو *د بیا میشتیدنې* دفتر (ORR) مرستو مستحق دي. د لازیاتو معلوماتو لپاره دغه ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ:
https://travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/siv-iraqi-afghan-translators-interpreters.html

**متحده ایالتونو ته له رسیدو وروسته، د کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر (ORR) مرستو/خدمتونو لپاره چیرته نوم لیکنه وکړم؟**
د کډوالو *د بیا میشتیدنې* دفتر (ORR) ایالتي حکومتونو، *د بیا میشتیدنې* ادارو او نورو غیرانتفاعي ټولنیزو سازمانونو ته په بودجه ورکوي تر څو کډوالۍ د ځانګړې ویزې درلودنکي (SIV) لپاره مرستې او خدمتونه چمتو کړي. تاسې د کډوالۍ د ځانګړې ویزې درلودنکي موقف د ترلاسه کیدو په ورځ یا د موقف ترلاسه کولو *نیټه* وروسته د ایالتي حکومت د مرستې دفتر کې یا خپل ایالت کې *د بیا میشتیدنې* نژدې اداره کې نوم لیکنه کولای شئ. د ایالتي حکومت د اړیکو د لسټ لپاره، دې پاڼې ته ورشئ:
https://www.acf.hhs.gov/orr/grant-funding/key-state-contacts

**د کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر (ORR) د مرستو/خدمتونو لپاره زه باید کله نوم لیکنه وکړم؟**
همدا اوس. منتظر مه پاتې کیږئ. ستاسې مرستې او خدمتونه یوازې د یو محدود وخت لپاره شتون لري. د کډوالو *د بیا میشتیدنې* دفتر (ORR) تمویل شوې نغدي او طبي مرستې ستاسې د مستحق ګرځیدو له*نیټه* څخه زیات نه زیات ۸ میاشتو پورې محدودې دي. د زیاتره کارموندنې خدمتونو او نورو خدمتونو لپاره چې موخه یې په اقتصادي توګه پر ځان بسیاینه ده، د مستحق ګرځیدو موده له هغه*نیټه* څخه تر ۵ کلونو پورې ده چې تاسې د ایس آوی وي(SIV)  موقف ترلاسه کړی.

**زه باید له ځان سره څه شی راوړم؟**
د خپل د کډوالۍ اسناد او  هغه سند چه د کډوالۍ ویزې د ترلاسه کولو *نیټه ښیی* له ځان سره ولرئ. دا ستاسې پاسپورټ د کډوالۍ ویزې ټاپې په درلودلو سره *ښیې چې تاسو* د کډوالۍ د ځانګړې ویزې درلودنکي (SIV) کټګورۍ کې ځای پر ځای شوي یاست. که تاسې له خپلې میرمنې/خاوند یا ماشومانو سره راغلي یاست، هر یو باید د کډوالۍ ویزې درلودونکی خپل پاسپورټ له ځان سره راوړي.

---

**د کډوالی د ځانګړي ویزې درلودونکي یوه افغان یا عراقي وګړي په توګه زه کومې مرستې او خدمتونه ترلاسه کولای شم؟**

ځیني کډوالی د ځانګړي ویزې درلودنکي (SIVs) په خپل ایالت کې د فیدرالي "عادي بهیر/"Mainstream" مرستو، لکه د هوساینې علاوه عاید [Supplemental Security Income (SSI)] یا د اړمنو کورنیو لپاره لنډمهاله مرستې [ Temporary Assistance for Needy Families (TANF)] له لیارې نغدي مرستې، د میډیکیډ (Medicaid) له لارې صحي بیمې، او د خوراکي توکو اضافه مرستې پروګرام [Supplemental Nutrition Assistance Program (SNAP)] له لیارې د خوراکي توکو مرستو لپاره درخواست کولای شي.

**د کډوالو د *بیا میشتیدنې* دفتر (ORR) لومړنۍ مرستې (د مستحق ګرځیدو له نیټې څخه تر ۸ میاشتو پورې):**

**کډوالو لپاره نغدي مرسته [Refugee Cash Assistance (RCA)]**
د کډوالی ځانګړو ویزو درلودونکي هغه کسان چې د SSI یا TANF لپاره مستحق نه دي، کولای شي د کډوالو لپاره نغدي مرسته (RCA) ترلاسه کړي. د هغوی د مستحق ګرځیدو له نیټې څخه په حسابولو سره، د کډوالی ځانګړو ویزو درلودونکي د خپلو تر ټولو زیاتو بنسټیزو اړتیاوو، لکه خواړه، سرپناه، او ترانسپورت، د پوره کولو لپاره تر ۸ میاشتو پورې د کډوالو لپاره نغدي مرسته (RCA) ترلاسه کولای شي

**د کډوالو د *بیا میشتیدنې* دفتر (ORR) د مشابه وړیا مرستې پروګرام (ORR Matching Grant Program)**
د کډوالی ځانګړې ویزې درلودونکي ځیني کسان بنسایي د کډوالو د *بیا میشتیدنې* دفتر (ORR) د مشابه وړیا مرستې پروګرام، چې د ځای بسیاینې لومړنی پروګرام دی، ګډون وکړي. د نوم لیکنې چتر شمیر او موقعیت ته په کتو سره محدود دی. د کډوالو د *بیا میشتیدنې* دفتر (ORR) د مشابه وړیا مرستې پروګرام نغدي مرسته، د قضیې تشدیدي مدیریت، او د دندې خدمتونه چمتو کوي تر څو د کډوالی ځانګړې ویزې درلودونکي سره په فوري توګه د دندې موندلو او تداوم کې مرسته وشي. د دې پروګرام موخه له مؤکلینو سره مرسته کول تر څو په ۱۸۰ ورځو کې له اقتصادي اړخه پر ځای بسیا شي. د کډوالی ځانګړو ویزو درلودونکي باید د مستحق ګرځیدو د نیټې وروسته ژر تر ژره د مشابه وړیا مرستې پروګرام (MG Program) کې نوم لیکنه وکړي.

**د کډوالو طبي مرسته (RMA)**
هغه د کډوالی ځانګړو ویزو درلودونکي چې د میډیکیډ (Medicaid) لپاره مستحق نه دي، د هغوی د مستحق ګرځیدو نیټې راهیسې کولای شي تر ۸ میاشتو پورې د کډوال طبي مرستې (RMA) ترلاسه کړي. د کډوال طبي مرستې (RMA) د هماغه صحي بیمې پوښښ چمتو کوي چې میډیکیډ (Medicaid) یې چمتو کوي.

**خدمتونه (د مستحق ګرځیدو له نیټې څخه تر ۵ کلونو پورې):**

**د دندې مرسته: د کډوال ملاتړي خدمتونه (RSS)**
د کډوالی ځانګړې ویزې درلودونکي د کارګومارنې وړتیا درلودلو خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره بنسایي د کډوال ملاتړي خدمتونو (RSS) ته لاسرسی ولري چې دغه خدمتونه د هغوی د مستحق ګرځیدو نیټې څخه تر ۵ کلونو پورې د لاسرسي وړ دي. د کډوال ملاتړي خدمتونو (RSS) د کارګومارنې وړتیا درلودلو خدمتونه چمتو کوي؛ د دندې روزنه او چمتووالی؛ د دندې لټولو ګومارنې، او ساتل؛ د انګریزي ژبې زده کړه، د ماشوم پالنه؛ ترانسپورت ؛ د لیکلي ژباړې او ترجمانی خدمتونه؛ او د کیس/قضیې مدیریت.

**تخصصي پروګرامونه**
ځیني د ځانګړو ویزو درلودونکي بنسایي د نورو تخصصي پروګرامونو لپاره مستحق وي لکه د صحي سازګارۍ خدمتونه، د کوچنیو سوداګریو د پیل لپاره تخنیکي خدمتونه، مالي سپماوې، د زلمیانو روزنه، یا نور هدفي ملاتړ پروګرامونه.